# Higher Education Weekly

https://mohe.gov.af

شماره یکصدو نودو سوم - سال نهم- جوزا ۱۴۰۱ هـ.ش


## امتحان بست های کادری پوهنتون بین المللی افغان برگزار شد

امتحان شمولیت در بست های کادر علمی پوهنتون بین المللی افغان برگزار شد.

الحاج مولوی عبدالباقی حقانی سرپرست وزارت تحصیلات عالی، ضمن نظارت از جریان این امتحان، روی شفافیت و راه یافتن استادان نخبه تأکید کرد.

در این امتحان، ۸۳ داوطلب به هدف شامل شدن در بست های کادر علمی پوهنځی شرعیات در سه رشته (فقه و قانون، قضا و سیاست و امور مالی و بانک داری اسلامی) به رقابت پرداختند.



مفتی عبدالرؤف فراهی رئیس نصاب تحصیلی وزارت تحصیلات عالی، نحوه امتحان را تشریح نموده افزود که به ۷

## نشستی به منظور ارایه توضیحات در مورد اهمیت شبکه تحصیلی و تحقیقی افغانستان برگزار شد

به منظور توضیح و تشریح اهمیت شبکه تحصیلی و تحقیقی افغانستان (AfgREN) و بحث روی تمدید دوباره آن؛ نشستی در وزارت تحصیلات عالی برگزار شد.

در این نشست که از سوی ریاست تکنالوژی معلوماتی وزارت تحصیلات عالی برگزار گردید، روئسا و شماری از استادان پوهنځی های کمپیوتر ساینس پوهنتون های کابل، پولی تخنیک کابل، ننگرهار، بلخ و هرات بصورت حضوری و آنلاین اشتراک نموده بودند.

در آغاز این نشست احمد ضیا جبارخیل رئیس تکنالوژی معلوماتی وزارت تحصیلات عالی، در رابطه به نقش شبکه تحصیلی و تحقیقی افغانستان در قسمت دسترسی آسان و بدون هزینه در پوهنتون های کشور به موضوعات تحقیقاتی و تحصیلی جدید سایر پوهنتون های معتبر جهان معلومات ارایه نموده، در قسمت تمدید این شبکه که سال گذشته قرار داد آن خاتمه یافته است، جویایی نظریات اشتراک کنندگان نشست گردید.

وی اضافه نمود که ریاست تکنالوژی معلوماتی وزارت تحصیلات در تلاش است تا پوهنتون های دولتی که تا فعلاً عضویت این شبکه را نداشته اند، با این شبکه یکجا نماید.

سپس احسان الله عمری و ضیاء الرحمن صافی دو تن از مسوولان بخش تخنیکی ر یاست تکنالوژی معلوماتی وزارت تحصیلات عالی در مورد شبکه تحقیقاتی و تحصیلی داخلی و خارجی افگرین به اشتراک کنندگان نشست معلومات داده به پر سش های آنان پاسخ ارایه نمودند.

اعضای نشست، بعد از صحبت های همه جانبه ضمن توافق روی تمدید دوباره قرار داد شبکه متذکره، فیصله نمودند که در گام نخست تمام پوهنتون های دولتی کشور به این شبکه وصل گردند و سپس با شبکه های تحقیقی و تحصیلی سایر کشور های منطقه و جهان یکجا شوند.

## امتحان تحریری و تقریری بست های کادری جامعه عبدالله بن مسعود اخذ گردید

ریاست جامعات و تخصصات وزارت تحصیلات عالی، از نزد ۴۹ تن متقاضی بست های کادری برنامه های تخصصات جامعه عبد الله بن مسعود، امتحان تحریری و تقریری اخذ نمود.



در آغاز مفتی عبدالرؤف فراهی رئیس نصاب تحصیلی وزارت تحصیلات عالی در رابطه به چگونگی اخذ امتحان متذکره معلومات همه جانبه ارایه نموده پیرامون شفافیت امتحان یاد شده به شاملان اطمینان داد. ۷

## مسابقات جامِ فوتسال پوهنتون پولی تخنیک کابل به پایان رسید

مسابقات جامِ فوتسال پوهنتون پولی تخنیک کابل که با اشتراک ده تیم از پوهنځی های مختلف این پوهنتون آغاز شده بود، با قهرمانی تیم پوهنځی جیولوژی و معدن به پایان رسید.



در آخرین بازی این جام، تیم جیولوژی و معدن با تیم ساختمان های ترانسپورتی به مصاف هم رفتند که تیم جیولوژی و معدن توانست با نتیجه ۶ بر ۴ برنده جام قهرمانی گردد . ۶


صاحب امتیاز: وزارت تحصیلات عالی
مدیر مسوول: مدیرجان کوتوال
هیأت تحریر: اخترمحمد عبیر، محمد اسلم اسلم و ناصر خان شیرزی
گزارشگران: کاوون رمز، محب الله امیري و قاسم جویا
تصویر بردار: احمد سیر معرفت
صفحه آرا: عنایت الله حنیفی
مصحیح: الفت الله حلیم

جمع آوری مواد هفته نامه: زمری یعقوبی
نشانی: کارته چهار, کابل افغانستان
سال تاسیس: ۱۳۹۱ خورشیدی
تیراژ: ۲۵۰ نسخه
محل چاپ: مطبعه ریاست نشرات وزارت تحصیلات عالی
وب سایت وزارت:www.mohe.gov.af
شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۳۲۵
آدرس الکترونیکی:ministrymohe@gmail.com


**ګرانه لوستونکیه!**

**که تا سي غواړئ چي ستا سو ليکني په لوړو زده کړو اونيزه کي خپري شي، نو کولای شئ چي خپلي ليکني، نيک نظرونه او سالم وړانديزونه په لاندي پتو را وليږئ.**

**خوانندگان گرانقدر!**

**تقاضامندیم نظریات و پیشنهادات تان را جهت بهبود نشرات این هفته نامه با ما شریک نموده و همچنان مطالب و نوشته های تان را جهت نشر در این هفته نامه از طریق ایمیل و یا به شکل مستقیم به ریاست اطلاعات، نشرات و روابط عامه ارسال دارید.**


# لوړو زده کړو اونیزه — هفته نامه تحصیلات عالی

https://mohe.gov.af

۱۹۳ مه ګڼه – نهم کال - ۱۴۰۱ هـ.ل – غبرګولی


## جلسه کمیسیون مؤسسات تحصیلات عالی خصوصی دایر شد

جلسه کمیسیون موسسات تحصیلات عالی خصوصی تحت ریاست الحاج مولوی عبدالباقی حقانی سرپرست وزارت تحصیلات عالی دایر شد.




در آغاز جلسه سرپر ست وزارت تحصیلات عالی، ضمن تاکید روی تطبیق قوانین و رهنمود های وزارت تحصیلات عالی در نهاد های تحصیلی کشور گفت: « در نظام تحصیلات عالی افغانستان دو نوع تحصیلات عالی که شامل نهاد های تحصیلی دولتی و خصوصی می باشند فعالیت داشته و هر دو سکتور دولتی و خصوصی در پرتو قوانین و ارزش های دینی و ملی کشور در راستای تربیه اولاد این وطن خدمات تحصیلی را عرضه می نمایند که وزارت تحصیلات عالی بنا بر مسوولیت های کاری خویش در قسمت حل مشکلات و تقویت هر دو بخش مسوول می باشد.» ۷

## د اداري پروسو ساده کولو په موخه لوړو زده کړو وزارت کې ناسته ترسره شوه



د اداري پروسو د ساده کولو په موخه، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو پلاوي د لوړو زده کړو وزارت له مسؤلانو او کارکوونکو سره، په دغه وزارت کې ناسته وکړه . ۷

## لوړو زده کړو سرپرست وزیر د کندهار له پوهنتون څخه لیدنه وکړه

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر کندهار ولایت ته د رسمي سفر په ترڅ کې د کندهار پوهنتون له مسؤلینو سره لیدنه ترسره کړه.



په دې لیدنه کې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر الحاج مولوي عبدالباقي حقاني او ور سره پلاوي، د کندهار پوهنتون رئیس پوهنوال ډاکټر محمد زکریا امیرزاده، د محصلانو چارو مرستیال پوهندوی فیض الله قاضي زاده، د مالي او اداري چارو مرستیال انجینر محمد ناصر نیکزاد، د پوهنځیو ۷

## لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر افغانستان لپاره د (M.S.F) مؤسسې له استازي سره وکتل



افغانستان لپاره د (M.S.F) مؤسسې استازي او ورسره مل پلاوي د لوړو زده کړو سرپرست وزیر سره، د میوند تدریسي روغتون قابله ګانو او نرسانو د روزنې په برخه کې د همکاریو زیاتوالي په موخه ناسته ترسره کړه.

یاده ناسته، چې د لوړو زده کړو وزارت مقام د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه پکې د لوړو زده کړو ۷

## نمایشگاه آثار هنری پوهنځی هنرهای زیبای پوهنتون کابل برگزار شد

رشته های هنر های زیبا در نظام تحصیلات عالی کشور یک نیاز مبرم می باشد که نه تنها متوقف نخواهد شد بلکه با نظرداشت ارزش های دین اسلام و فرهنگ افغانی در جهت تقویت و استفاده مناسب از آن استفاده خواهد شد.



این مطلب را دوکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی در محفل افتتاح نمایشگاه آثار هنری که به مناسبت سمستر بهاری پوهنځی هنرهای زیبای پوهنتون کابل دایر شده بود اظهار داشت.

در محفل یاد شده دوکتور اسامه عزیز رئیس پوهنتون کابل، دوکتور شاکر جلال ۷

**در این شماره**


2 سرلیکنه.
2 سیرت نبوی صلی الله علیه وسلم.
3 د اسلامي حاکمانو، اخلاق او صفات.
4 ننګرهار پوهنتون په اړه عمومي معلومات.
5 د کابل طبي پوهنتون له مالي او اداری مرستیال سره ځانګړې مرکه.
6 در باب آداب صحبت .
6 غوره ویناوې!

## سرلیکنه

### تحصیلي خپلواکي

افغانستان په خپل تاریخ کې د بهرنیو هېوادونو له ښکېلاک سره مخ و، خو د دغو ښکېلاکونو یوازې پوځي برخه خلکو ته ځرګنده او د پام وړ وه. دغه راز همېشه یې یوازې د پوځي ښکېلاک د پای ته رسولو لپاره هڅې کړې دي. په داسې حال کې چې یاد ښکېلاکونه یوازې په پوځي برخه کې نه وو، بلکې د پوځي ښکېلاک له لارې د ایډیولوژیو جګړه وه.

د ایډیولوژیکي جګړې او پر ایډیولوژۍ د اغېزې تر ټولو غوره لارې چارې تعلیم او تحصیل دی. د یوې ټولنې خلک له ځان سره همفکره کول او پر هغوی د خپلو پالیسیو منل یوازې او یوازې د تعلیم او تحصیل له لارې شوني دي.

په پخوانیو او په ځانګړې ډول تېر شل کلن اشغال کې د افغانستان تحصیلي نظام په پراخه توګه د پردیو مفکورو تر برید لاندې و. په تحصیلي نصاب کې د بېلګو له بدلون نیولې، د محتوا تر بدلون پورې، پر هره برخه د اشغال نښې ښکاري. ښکېلاکګرو هېوادونو هڅه کوله چې د افغانستان تحصیلي نظام د خپلو مفکورو مطابق پر مخ بوځي. ان په دغه برخه کې یې په خپلو منځونو کې سیالۍ کولې او هر هېواد هڅه کوله، چې یو پوهنتون تمویل او هلته خپل پلانونه عملي کړي.

د تحصیلي مرکزونو د اشغال نښې د محصلینو په مفکور، د ژوند موخو ا و ټولنې په چلند کې په واضح ډول ښکاري، ځکه تعلیمي او تحصیلي مرکزونه هغه ځایونه دي، چې د ټولنې افکار او چلند رهبري کوي.

د ا.ا.ا له حاکمیت وروسته د ټولو هغو مؤسساتو او اینجوګانو دسیسو او شومو پلانونو ته د پای ټکی کېښودل شو، چې د افغانستان د تحصیلي نظام د سیکولر کولو لپاره یې کار کاوه. اوس الحمدالله هېڅ بهرنی هېواد او اینجو د افغانستان پر تحصیلي سکټور اغېزې نه لري، د افغانستان د تحصیلي سکټور ټولې چارې په خپلواک ډول د افغانانو له لوري، له خپلې عقیدې او ملي ارزښتونو سره سمې د د لوړو زده کړو وزارت له لوري رهبري کېږي.

په درناوي
اداره

## سیرت نبوی
## نبوي سیرت

ترتیب: مدیر جان کوټوال

### د رسو ل الله صلی الله علیه وسلم هجرت

کافرانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو پلان نیولی و، له دې شومې او بد بخته پرېکړې وروسته جبرائیل علیه السلام راغلو او د لوی الله جل جلاله له لوري یې رسول الله صلی الله علیه وسلم د قریشو له دسیسې خبر او ورته یې وویل: چې الله پاک د هجرت اجازه درکړې او ستا د هجرت لپاره یې وخت هم ټاکلی او فرمایلي دي، چې نن شپه په هغه ځای کې مه ویده کېږه چې پخوا به ویده کیدې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له غرمې وروسته د ابوبکر کور ته ورغی، تر څو یې له هجرت د اجازې څخه خبر او په ګډه لاره جوړه کړي.

د رسول الله صلی الله علیه و سلم بي بي حضرت عایشه رضي الله عنها فرمایي، د غرمې وروسته په کورکې ناست وو.

زما پلار ته چا وویل، دغه دی رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی، رسول الله صلی الله علیه وسلم د عادت له مخې په دغه وخت کله نه و راغلی، ابوبکرالصدیق رضی الله عنه ور پورته شو او ویې ویل: زما مور او پلار له ده قربان شه، سوګند په الله ج په دې وخت کې یې کوم مهم کار راوړی دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم د اجازې وروسته کورته داخل او زما پلار ابوبکر الصدیق ته یې وویل: ناست کسان له کوټې د باندې(بیرون) کړه!.

ابوبکر الصدیق رضی الله عنه ورته وویل: داالله جل جلاله رسوله! یوازې ستاسې کډه ناسته ده.

ر سول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ماته د هجرت اجازه شوې، ابوبکررضی الله عنه ورته وویل: زما پلار درڅخه ځار شه زه به درسره ملګرې وم؟ رسول الله: هو! وروسته له دې چې دواړو د هجرت پروګرام جوړ کړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل کورته ولاړ او د شپې انتظار یې کاوه.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د کور محاصره:
له بلې خوا د قریشو لویو سرغړونکو ټوله ورځ د هغه شوم پروګرام (د رسول الله وژل) د عملي کولو په هلو ځلو کې تېره کړه، کوم پلان چې سهار له خوا د مکې اولسي جرګې جوړ کړی وو.

قریشو د دې کار د سرته رسولو لپاره لس مشران ټاکلي وو.

ابن اسحاق لیکي: د شپې له شروع سر سم ټول مشران د خپلو ځوانانو سره راټول او په انتظار وو، چې کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم راووځي، چې نابېره پرې حمله وکړي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم همیشنی عادت و، چې د شپې په سر کې به ویده کېده او له نیمایي شپې وروسته او یا دشپې په اخر کې به پورته کېده او د لمانځه لپاره به حرم شریف ته وتلو.

د ټولو پوخ باور و، چې په خپل شوم پروګرام کې به بریالي او خپل شوم پلان به عملي کوي، ان تردې چې ابو جهل له ډېرې بې حیایۍ څخه د ملنډو او مسخرو په ژبه محاصره کوونکو ته وویل:

محمد صلی الله علیه وسلم وایي، که تاسو یې منئه وکړئ؛ نو تاسو به دعربو او عجمو مشران، له مرګ ورو سته را ژوندي او زه به د اوردن په شان لوی باغونه درکوم او که دده منئه مو ونه کړه؛ نو بیا به ووژل شئ، بیا به له مرګ وروسته را ژوندي او د تل لپاره به په اور کې سوځول کېږئ.

د دې شوم پروګرام د عملي کولو لپاره له نیمې شپې وروسته وخت ټاکل شوی و، ټول وېښ او د ټاکلي وخت د راتلو په انتظارناست وو.

خو داچې د زمکې او اسمانونو واکدار الله جل جلاله دی او په خپلو کارونو غالب دی، هر څه چې وغواړي کوي یې، هر چا ته پنا ورکوي او له دې څخه څوک خلاصیدای نه شي.

څه چې د الله جل جلاله خوښه وه، هغه یې وکړل او خپل استاذي ته یې داسې وحې وکړه.

ژباړه: هغه وخت یاد کړه، کله چې کافرانو شوم پلان جوړ کړ، چې بندي دې کړي یادې ووژني او یا دې له وطن څخه وشړي، دوی دسیسې جوړوي الله پاک د دوی د دسیسو ځواب ورکوي، الله پاک ښه پروګرام جوړونکی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له کور څخه وځي:
سره له دې چې قریش په خپل پروګرام کې پاتې راغلل؛ نو په دې سخته ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم علي ابن ابي طالب ته وویل، زما شین حضرمي څادر واغونده او زما پر ځای ویده شه!، ډاډه اوسه چې کافران هېڅ زیان نشي در رسولی.

دا هغه څادر و چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په کې همېشه اوده کېده او بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم راووتلو او د کافرانو په مینځ کې ورتېر، موټی یې له خاورو ډک او د هر یوه پر سر یې وروشینده او ټول کافران ړانده او رسول الله صلی الله علیه و سلم یې ونشو لیدلی او دا مبارک ایات یې تلاوت کولو:

ژباړه: د دوی مخ او شاته مو پردې واچولې، دوی مې بې هوښه کړل؛ نو هېڅ یې نه لیدل.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ابوکر الصدیق رضی الله عنه کورته ورغلو او له هغه ځای څخه د شپې د ثور غار ته چې له مکې څخه د یمن پر لور پروت و ولاړل.

دوام لري...



### د اداري پروسو ساده کولو په موخه لوړو زده کړو ...

یاده ناسته د قرانکریم په مبارکو ایاتونو سره پیل شوه او وروسته د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معین مولوي حافظ محمد حامد حسیب د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري پلاوي ته د ښه راغلاست تر څنګ، د اسلام له نظره د چارو اسانتیا ته په اشارې سره وویل، چې دا د حکومت مسؤلیت دی، چې د خلکو کارونه په خپل وخت سره ترسره کړي. نوموړي په لوړو زده کړو وزارت کې د یادې پروسې عملي کولو ته تیاری وښود او په دغه برخه کې یې د اداري اصلاحاتو او ملکي



خدمتونو اداري پلاوي ته د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ .

همدارنګه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د پروسو د اداري چارو رئیس بریالي ابدالي د یادې پروسې په اړه معلومات ورکړل او د یوې ګډې کاري کمېټې پر جوړولو یې ټینګار وکړ، تر څو یې مسلکي برخه د ملکي خدمتونو اداره او تطبیقي برخه یې د لوړو زده کړو وزارت پر مخ یوسي .

د یادولو وړ ده، چې د ناستې په پای کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د پروسو د اداري چارو مسلکي غړو د یادې پروسې په اړه پرېزنټېشن وړاندې کړ او د ګډونوالو پوښتنو ته یې ځوابونه وویل.

### امتحان بست های کادری پوهنتون بین المللی ...

زودی امتحان تقریری نیز از این اشتراک کنندگان اخذ خواهد شد.

بعدا، سرپرست وزارت تحصیلات عالی، از کتابخانه و بخش های مختلف پوهنتون بین المللی افغان دیدار نموده جهت مدیریت درست این نهاد تحصیلی، به مسؤلان هدایات لازم داد.

### لوړو زده کړو سرپرست وزیر د کندهار له پوهنتون څخه ...



رئیسانو، استادانو او اداري کارمندانو ګډون کړی وو.

د یادې لیدنې پرمهال د لوړو زده کړو سرپرست وزیر الحاج مولوي عبدالباقي حقاني وویل، " د ا.ا.ا نظام د تعلیمي او تحصیلي بنسټونو تقویې ته ژمن دی؛ نو راځئ، چې د دې هېواد ځوان نسل ته د اسلامي اصولو او احکامو ښوونه وکړو او د ساینسي علومو په ذریعه عام اولس ته د سهولتونو او اسانتیاوو تر ټولو ښه زمینه برابره او چمتو کړو".

سرپرست وزیر زیاته کړه، " د ا.ا.ا د لوړو زده کړو وزارت د هېواد علمي کادرونو ته احترام لري، د جذب له پاره یې معیارونه ثابت دي؛ خو د کادرونو د احترام په خاطر باید د استخدام په پروسه کې سهولتونه او اسانتیاوې برابرې شي".

بل لور ته د کندهار پوهنتون رئیس پوهنوال محمد زکریا امیرزاده د یاد پوهنتون اړوند ځینې ستونزې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر سره شریکې کړې، چې د ممکنه ستونزو حل کېدو ډاډ ورکړل شو.

### لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر افغانستان ...

سرپرست وزیر الحاج مولوي عبدالباقي حقاني، د افغانستان لپاره د (M.S.F) مؤسسې استازي ډیوډ میچلسکي او ورسره مل پلاوي او د کابل طبي پوهنتون رئیس استاذ فضل الرحمن رحماني هم شتون درلود.

په ناسته کې د لوړو زده کړو وزارت تر چتر لاندې د میوند تدریسي روغتون او د (M.S.F)مؤسسې ترمنځ مخکینی لاسلیک شوی هوکړه لیک تازه کړ او یادې مؤسسې له میوند تدریسي روغتون سره د همکاریو لمن پراخه کړه.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د یادې ناستې پرمهال راغلي پلاوي ته ښه راغلاست ووایه، په افغانستان کې د (M.S.F) مؤسسې فعالیتونه وستایل او د لا ډېرې همکارۍ غوښتنه یې وکړه.

همدارنګه سرپرست وزیر یاد پلاوي ته په کاري ماحول کې د اسانتیاوو برابرولو، شفافیت او ورته نورو مهمو موضوعاتو په اړه ډاډ ورکړ او ترې یې وغوښتل، چې په ډاډه زړه خپلو خدمتونو ته دوام ورکړي.

افغانستان لپاره د (M.S.F) مؤسسې استازي د لوړو زده کړو له سرپرست وزیر څخه د مننې ترڅنګ وویل: " موږ د تېرو ځلوېښتو کالونو راهیسې په افغانستان کې صحي خدمات وړاندې کوو او دا چاره به دوام ولري تر دې، چې په افغانستان کې د مور او ماشوم د مړینې کچه را کمه شي.".

### جلسه کمیسیون مؤسسات تحصیلات عالی ...

وی در ادامه اظهارداشت که وزارت تحصیلات عالی بادرنظرداشت نیازمندی های کشور و امکانات موجود، در راستای حل مشکلات و رسیدگی به نیازمندی های نهاد های تحصیلی کشور به ویژه سکتور خصو صی، از هیچ نوع همکاری دریغ نخواهد کرد .

بعداً اع ضای جل سه که مت شکل از هیئت رهبری وزارت تحصیلات عالی، روئسای چهار پوهنتون مرکز، رئیس اجرائی اتحادیه نهاد های تح صیلات عالی خ صو صی و مشاورین وزارت تحصیلات عالی می باشند، مطابق آجندا روی مو ضوعات مطرح شده بحث و تبادل نظر نموده در زمینه مطابق احکام قانون فیصله های لازم اتخاذ نمودند.

### امتحان تحریری و تقریری بست های کادری...

به گفته وی متقاضیان که پروسه امتحان را موفقانه سپری نمایند، مطابق رشته های تحصیلی شان به صفت استاد در ۵ برنامه تخصص که شامل تخصص تفسیر و علوم قرآن تخصص حدیث وعلوم حدیث، تخصص افتاء وقضا، تخصص دعوت و ارشاد و تخصص اقتصاد و بانکداری اسلامی می باشد جذب خواهند شد.

## ننګرهار پوهنتون په اړه عمومي معلومات

ترتیب کوونکی: حمدالله محب

### لنډه تاریخچه:

ننګرهار پوهنتون، چې د هېواد په کچه له مرکز کابل وروسته دویم ستر پوهنیز او اکاډمیک مرکز دی، د بنسټ ډبره یې پر (۱۳۴۲) لمریز کال د تلې په (۱۷مه) د عالي حضرت محمدظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال د پوهنې وزیر ارواښاد علي احمد پوپل له خوا د جلال اباد ښار په شیشم باغ سیمه کې کېښودل شوه. پیل یې د طب له پوهنځي وشو، چې پنځو امریکایي او دربو افغان استادانو پکې (۴۸) تنو محصلانو ته تدریس کاوه، د وخت په تېرېدو پکې د انجنیري، کرنې، ښوونې او روزنې، ژبو او ادبیاتو، اقتصاد، شرعیاتو، حقوقو او سیاسي علومو، وترنري علومو، ساینس، کمپیوټر ساینس، ژورنالېزم او عامه اداري او پالېسۍ پوهنځي رامنځته شول.

د ننګرهار پوهنتون له علمي بهیر څخه (۵۲) کاله تېرېږي، چې ددې څه دپاسه نیمې پېړۍ، هلو ځلو ستره لاسته راوړنه یې په بېلابېلو څانګو او مسلکونو کې د (۳۲۲۷۳) تنو علمي کادرونو روزل او د خدمت په موخه ټولنې ته وړاندې کول دي، چې له دې ډلې نږدې دوه زره تنه یې نجوني دي.

### لرلید:

ننګرهار پوهنتون د خپل لرلید له مخې هوډ لري، چې په راتلونکي کې د مسلکي او لوړ رتبه استادانو، علمي او اکاډمیکو څېړنو، برنامو، د زده کړې غوره او پرمختللی چاپېریال، نړیوالو علمي او مسلکي تواميتونو او زده کړیالانو ته د غوره خدمتونو وړاندې کولو په مرسته په سیمه کې ځانګړی باور ترلاسه کړي.

### ماموریت:

ننګرهار پوهنتون ویاړي، چې د هېواد او سیمې په کچه په بېلابېلو مسلکونو کې وړ او معیاري کادرونه روزي، چې د خپلو وړتیاوو او کاري مهارتونو پر مټ په هېواد او سیمه کې شته ستونزو ته حل لارې ولټوي او په پرمختګ کې یې رغنده ونډه ولري.

د ریاست مقام او معاونیتونو سربېره د پوهنتون په تشکیل کې د دیارلسګونو پوهنځیو ریاستونه، د تدریسي روغتون ریاست، ۱۲ علمي او اداري آمریتونه او د هغې اړوند مدیریتونه او شعبات شتون لري، چې چارې یې د ۴۷۴ تنو استادانو، ۲۱۴ تنو اداري او ۱۸۸ خدماتي کارکوونکو له خوا پر مخ وړل کېږي، چې له دې ډلې ۲۹ تنه یې ښځینه دي.

### پوهنځي:

ننګرهار پوهنتون (۱۳) پوهنځي لري، چې د طب، انجنیري، کرنې، ښوونې او روزنې، ژبو او ادبیاتو، اقتصاد، شرعیاتو، حقوقو او سیاسي علومو،




وترنري علومو، ساینس، کمپیوټر ساینس، ژورنالېزم او عامه اداري او پالېسۍ پوهنځیو څخه عبارت دي.

### طب پوهنځی:

طب پوهنځی د ننګرهار پوهنتون په چوکاټ کې لومړنی پوهنځی دی، چې په (۱۳۴۲) کال کې تاسیس شو. اوس مهال یاد پوهنځی (۲۴) څانګې لري، چې د (۱۰۴) تنو استادانو له خوا په کې (۱۰۵۲) تنو محصلانو ته تدریس کېږي، چې له ډلې (۲۳۷) تنه یې نجونې دي.

### انجنیري پوهنځی:

انجنیري پوهنځی د ننګرهار پوهنتون په چوکاټ کې په (۱۳۵۷) لمریز کال کې رامنځته شو. اوس مهال نوموړی پوهنځی (۳) څانګې لري، او د (۳۲) تنو استادانو له خوا په کې (۱۰۵۳) تنو محصلینو ته تدریس کېږي، چې (۴۳) تنه یې نجونې دي.

### کرنې پوهنځی:

کرنې پوهنځی د ننګرهار پوهنتون له پرمختیایي پلان سره سم په (۱۳۵۷) لمریز کال کې رامنځته شو. اوس مهال یاد پوهنځی (۸) څانګې لري، چې د (۳۱) تنو استادانو له خوا په کې (۸۰۰) تنو محصلینو ته تدریس کېږي، چې له ډلې (۲۴) تنه یې نجونې دي.

### ښوونې او روزنې پوهنځی:

ښوونې او روزنې پوهنځی د ننګرهار پوهنتون له پرمختیایي پلان سره سم په (۱۳۵۷) لمریز کال کې تاسیس شو. اوس مهال نوموړی پوهنځی (۸) څانګې لري، چې د (۵۹) تنو استادانو له خوا په کې (۳۰۶۲) تنو محصلینو ته تدریس کېږي، چې له دې ډلې (۴۲۹) تنه یې نجونې دي.

### ژبو او ادبیاتو پوهنځی:

ژبو او ادبیاتو پوهنځی د ننګرهار پوهنتون په چوکاټ کې په (۱۳۶۳) لمریز کال کې تاسیس شو. اوس مهال نوموړی پوهنځی (۲) څانګې لري، د (۲۱) تنو استادانو له خوا په کې (۱۸۱۱) تنو محصلینو ته تدریس کېږي، چې له دې ډلې (۲۲۲) تنه یې نجونې دي.

### اقتصاد پوهنځی:

اقتصاد پوهنځی د ننګرهار پوهنتون له پرمختیایي پلان سره سم په (۱۳۶۳) لمریز کال کې تاسیس شو. اوس مهال نوموړی پوهنځی (۴) څانګې لري، او د (۲۲) تنو استادانو له خوا په کې (۱۲۸۳) تنو محصلینو ته تدریس کېږي، چې (۴۱) تنه یې نجونې دي.

### شرعیاتو پوهنځی:

شرعیاتو پوهنځی د ننګرهار پوهنتون له پرمختیایي پلان سره سم په (۱۳۷۱) لمریز کال کې رامنځته شو. اوس مهال نوموړی پوهنځی (۴) څانګې لري، اود (۴۳) تنو استادانو له خوا په کې (۱۰۹۳) تنو محصلینو ته تدریس کېږي، چې له دې ډلې (۲۲۲) تنه یې نجونې دي.

### حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی:

حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د ننګرهار پوهنتون له پرمختیایي پلان سره سم په (۱۳۷۲) لمریز کال کې تائسیس شو. اوس مهال نوموړی پوهنځی (۲) څانګې لري، او د (۲۰) تنو استادانو له خوا په کې (۱۰۱۹) تنو محصلانو ته تدریس کېږي، چې له دې ډلې (۹۵) یې نجونې دي.

### وترنري علومو پوهنځی:

وترنري علومو پوهنځی د ننګرهار پوهنتون له پرمختیایي پلان سره سم په (۱۳۷۲) لمریز کال کې تائسیس شو. اوس مهال نوموړی پوهنځی (۳) څانګې لري، اود (۲۲) تنو استادانو له خوا په کې (۵۱۲) تنو محصلینو ته تدریس کېږي، چې له دې ډلې (۲) تنه یې نجونې دي.

### کمپیوټر ساینس پوهنځی:

کمپیوټر ساینس پوهنځی په (۱۳۸۵) لمریز کال کې د ننګرهار پوهنتون په چوکاټ کې رامنځته شو. اوس مهال نوموړی پوهنځی (۳) څانګې لري، او د (۱۸) تنو استادانو له خوا په کې (۷۴۸) تنو محصلینو ته تدریس کېږي، چې له دې ډلې (۱۲۲) تنه یې نجونې دي.

### ساینس پوهنځی:

ساینس پوهنځی په (۱۳۹۰) لمریز کال کې د ننګرهار پوهنتون په چوکاټ کې رامنځته شو، اوس مهال نوموړی پوهنځی (۵) څانګې لري، او د (۲۷) تنو استادانو له خوا په کې (۱۳۴۲) تنو محصلینو ته تدریس کېږي، چې له دې ډلې (۲۳۶) تنه یې نجونې دي.

### ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی:

ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی د ننګرهار پوهنتون له پرمختیایي پلان سره سم په (۱۳۹۱) لمریز کال کې رامنځته شو. اوس مهال نوموړی پوهنځی (۳) څانګې لري، او د (۱۲) تنو استادانو له خوا پکې (۴۰۵) تنو محصلینو ته تدریس کېږي، چې له دې ډلې (۱۳) تنه یې نجونې دي.

### عامه اداري او پالیسۍ پوهنځی:

عامه اداري او پالیسۍ پوهنځی په (۱۳۹۱) لمریز کال کې د ننګرهار پوهنتون په چوکاټ کې رامنځته شو. اوس مهال نوموړی پوهنځی (۳) څانګې لري، او د (۱۲) تنو استادانو له خوا په کې (۵۱۰) تنو محصلینو ته تدریس کېږي، چې له دې ډلې (۷۱) تنه یې نجونې دي.



## د کابل طبي پوهنتون له مالي او اداري مرسیتال سره ځانګړې مرکه.

مرکه کوونکی: محمد اسلم اسلم

د لوړو زده کړو وزارت په اونیزه کې د خپرېدونکې مرکې په لړ کې مو دا ځل د کابل طبي پوهنتون له مالي او اداري مرستیال انجنیر عظیم الله کامران اخند زاده سره مرکه کړې، چې د کابل طبي پوهنتون په لاسته راوړنو، راتلونکو پلانونو، کاري وړتیاوو او نورو مهمو موضوعاتو په اړه مو ترې پوښتنې کړي، چې تاسو یې لوستو ته رابولو.



پوښتنه: که په لومړیو کې په لنډ ډول ځان د اونیزې لوستونکو ته ور وپېژنئ؟

ځواب: نوم مې عزیم الله کامران دی د لوګر ولایت مرکز اړوند په یوه متدینه او روښان فکره کورنۍ کې زیږېدلی یم. په ۱۳۹۳هـ ش کال کې د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي د ملي اقتصاد له څانګې فارغ شوی یم.

پوښتنه: تر دا مهاله مو کومو اداراتو سره رسمي یا غیر رسمي دندې ترسره کړې دي؟

ځواب: هو الحمدلله له فتحې څخه وړاندې د اسلامي امارت په چوکاټ کې په اداري، فرهنګي او نورو مختلفو برخو کې کارمند پاتې شوی یم، همدا راز د فتحې له راتګ مخکې د لوړو زده کړو په دایره کې د لوګر ولایت ولایتي مسؤل او د لوګر ولایت د لوړو زده کړو لپاره د مشورتي بورډ مسؤل وم.

پوښتنه: تاسو بېلابېل مسؤلیتونه ترسره کړي، کاري تجربې او مهارتونه مو که له درنو لوستونکو سره شریک کړئ؟

ځواب: الحمد لله له دې وړاندې اسلامي امارت سره او همدارنګه له نورو خصوصي ادارو سره په مالي او اداري برخو کې کار کړی او له دې برخې سره کامله بلدتیا لرم، همدارنګه دلته د کابل طبي پوهنتون مالي او اداري معاونیت ته په راتګ سره مې په اداري سېستم او مالي برخه کې نور ډېر څه تر لاسه کړل، د لوړو زده کړو وزارت له لورې، چې موږ ته کوم ورکشاپونه دایر شول ډېر ګټور وو، ډېر څه مو نوي تر لاسه کړل او لا هم هڅه کوو، تر څو له نوي عصر سره سمې لاسته راوړنې ولرو.

پوښتنه: کله چې تاسو د کابل طبي پوهنتون د مرستیال په توګه دنده پیل کړه له پیله تر اوسه کومې لاسته راوړنې لرئ؟

ځواب: غواړم یو څو ته یې د بېلګې په ډول د پوهنتون په کچه اشاره وکړم، یوه لویه لاسته راوړنه، چې په مادي او مالي لحاظ باندې هغه دا ده، چې په کابل کې د نبراسکا په نوم یوه تعلیمي مؤسسه وه، چې په تېر وخت کې یې فعالیت کاوه، موږ د هغوی سره په اړیکه کې شولو ترڅو چې ډېر زیات تعلیمي وسایل، ځینې وسایط او موټرو په باره کې ورسره تفاهم ته ورسېدو او د کابل طبي پوهنتون لپاره مو لاسته راوړل.

همدارنګه د لوړو زده کړو وزارت په همکارۍ مو د (I.C.R.C) نړیوالې مؤسسې سره د شپږو میاشتو لپاره هوکړه لیک لاسلیک کړ، چې د ټولو کارمندانو، استاذانو او د شپږو روغتونو مالي مصارف او معاشات، ټول هغوی پر غاړه واخیستل او له هغې نه وروسته مو یاد هوکړه لیک د ۸ میاشتو لپاره د ۲۰۲۲ م، تر پایه پورې بیا تمدید کړ، چې زه یې د پوهنتون لپاره تر ټولو غټه لاسته راوړنه بولم، د دې ترڅنګ ټول اداري او تدریسي پرسونل په خپل وخت خپلې دندې ته راځي او د کابل طبي پوهنتون درسي بهیر د اسلامي امارت له پالیسۍ سره سم، چې د اخطلاط مخنیوي او حجاب په نظر کې نیولو سره پرمخ روان دی او تاسو یې عملاً ګورئ.

پوښتنه: په اداري بهیر کې، چې ستاسو مربوط کېږي، ترڅنګ یې د تدریسي بهیر ځواکمنتیا او قوي کېدو لپاره په راتلونکي کې څه پروګرامونه لرئ؟

درسي بهیر خو الحمدلله په نورمال ډول پر مخ روان دی او په لومړیو کې، چې کادري بستونو لپاره استاذانو ته ضرورت وو، نو موږ لاس په کار شوو، بستونه مو اعلان کړل او په ډېره شفافه توګه مو ازموینه واخیسته، استاذان مو جذب کړل، ترڅو درسي بهیر مو ټکنی نشي او په راتلونکي کې هم ورته ژمن یو، چې د هېواد علمي کادرونه استخدام کړو.

پوښتنه: خپلو استاذانو، کارمندانو او محصلینو ته مو څه پیغام دی؟

ځواب: له محصلینو سره بار بار موږ په ناستو کې د پوهنتون د ریاست او زموږ له ادرسه واضح پیغامونه شریک شوي او دلته ورته وایم، چې محصلین د هېواد سرمایه ده، دوی ځوانان دي، دوی ته الله جل جلاله په داسې حالاتو کې دا زمینه برابره کړه، چې پوهنتون ته بریالي شي او لوړو زده کړو ته را شي؛ نو پکار ده، چې اوس په خالص نیت باندې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي، ترڅو د تحصیلي دورې تر پوره کېدو وروسته د هېواد د ابادۍ او د ځورېدلي ملت لپاره د خدمت جوګه شي. همدا رنګه ګرانو محصلینو ته پکار ده، چې له خپل دین، مذهب، اسلامي شعایرو او عقیدې خبر وي او په اړه یې باید پراخه مطالعه ولري.

درنو استاذانو ته مې دا پیغام دی، چې له خپل تدریس سره سره سالم فکر، سالمه عقیده، خپلو محصلینو ته ورکړي او داسې محصلین ټولنې ته وړاندې کړي، چې د خپل مسلک، خپل دین او اسلامي مفکورې حساب پرې وشي، ترڅو په تحصیلي برخه کې د مسلکي کادرونو ترڅنګ اسلامپال، هېواد پال او ژمن کادرونه ټولنې ته وړاندې کړو.

په پای کې محترم معاون صاحب له تاسو ډېره مننه، چې موږ ته مو وخت راکړ او زموږ پوښتنې مو را ځواب کړې!

له تاسو هم ډېره مننه، چې دلته راغلئ او زموږ نظریات او لاسته راوړنې تر لوستونکو پورې وررسوئ.

## نمایشگاه آثار هنری پوهنځی هنرهای زیبای ...

رئیس بانک ملی، مولوی احمدالله وثیق رئیس عمومی رادیو تلویزیون ملی، مولوی احمد تقی سخنگوی وزارت تحصیلات عالی، جنرال مبین و شماری از رئیسان، استادان و محصلان پوهنتون کابل نیز شرکت نموده بودند.

معین علمی وزارت تحصیلات عالی گفت که برخلاف تبلیغات اجانب مبنی بر توقف و ادغام پوهنځی هنرها، ما تلاش می نماییم تا رشته های مختلف هنرها را در نظام تحصیلات عالی تقویت نماییم و با در نظر داشت ارزش های دینی آنرا بکار گیریم.

دوکتورلطف الله خیرخواه افزود که در تاریخ اسلام نمونه های خوبی از بکار گیری انواع مختلف هنر داریم که هنر معماری اسلامی یکی از نمونه های آن است. وی گفت نگهداری عقل انسانی در راه دین مقدس اسلام یکی از مقاصد در احکام شریعت اسلام است و اگر از هنر در این راستا استفاده کنیم بهتر می توانیم این مقصد را بدست آریم، زیرا هنر یک وسیله خوب پیام رسانی محسوب میگردد.

معین علمی وزارت تحصیلات عالی علاوه کرد، از اینکه در نظام های غیر اسلامی از هنر به صورت درست آن استفاده نمی شود و بسیاری فعالیت های گویا هنری آنان با ارزش های اسلامی در تضاد است از این رو واژه هنر در ذهن مسلمانان خوب جلوه نمیکند و قسمی که انتظار است اصل هنر و استفاده مناسب از آن شناخته نشده است. وی گفت که با هنر پیام های را که نمی توان با کلمات اظهار کرد میتوانیم به مخاطبان خویش نشان دهیم و هرقدر در بخش نصاب رشته های این پوهنځی کار شود بهتر است تا رسالت اسلامی خود را بخوبی در زمینه ادا نماییم و با استفاده از آن تاریخ و مجاهدات خویش را به نسل های آینده انتقال دهیم.



دکتور اسامه عزیز رئیس پوهنتون کابل نیز طی صحبتی اظهار داشت که از هنر و مهارت های هنری باید در راستای اهداف اسلامی و تطبیق برنامه های امارت اسلامی استفاده صورت گیرد. وی گفت که سایر ارگان های مانند وزارت اطلاعات و فرهنگ، شاروالی و سایر ارگان های نیازمند میتوانند از مهارت های هنری استادان و محصلان این پوهنځی در راستای تطبیق برنامه های شان استفاده نموده و ایجاد هماهنگی کنند.

پوهنمل دوکتور محمود آریوبی رئیس پوهنځی هنرهای زیبای پوهنتون کابل گفت که این پوهنځی دارای رشته های گرافیک، فوتوگرافی، سینما وتیاتر، نقاشی، هنرهای تزئینی، تصنیف و ترانه و ادبیات نمایشی می باشد که هر کدام میتواند به بهتری وجهه وسیله خوبی پیام رسانی بوده و باعث تنویر اذهان جامعه در پرتو ارزش های دین اسلام گردد.

در این نمایشگاه چند پارچه ترانه، نمایشنامه، فلم و تصویر و هنرهای خطاطی، نقاشی و میناتوری که هر کدام انعکاس دهنده هنرهای اصیل افغانی ارزش های دین مقدس اسلام و مبارزات مجاهدین راه اسلام در مقابل متجاوزین بود به نمایش گذاشته شد .

در اخیر تحایفی نیز از جانب وزارت تحصیلات عالی به تعدادی از محصلان و استادانی که در این نمایشگاه خوب درخشیدند توزیع شد.

## مسابقات جامِ فوتسال پوهنتون پولی تخنیک کابل ...

در این مسابقات، تیم ساختمان های ترانسپورتی نایب قهرمان و تیم تکنالوژی کیمیاوی در جایگاه سوم ایستاد.

پوهنوال عبدالرشید اقبال رئیس پوهنتون پولی تخنیک کابل در ختم این مسابقات، ورزش را ضامن صحتمندی خوانده گفت که ورزش همواره پیام آور صلح و اتحاد در جامعه می باشد.

همچنان، سید انورشاه سادات مدیر عمومی ورزش آمریت انسجام خدمات محصلان وزارت تحصیلات عالی گفت که این وزارت متعهد است تا زمینه رشد مهارت ها و شگوفا ساختن استعداد های جسمی و ذهنی محصلان را از طریق برگزاری تورنمنت های ورزشی فراهم سازد.



آقای سادات افزود که بر اساس طرح منظور شده آمریت انسجام خدمات محصلان، قرار است چنین مسابقات ورزشی در سائر پوهنتون های کشور نیز برگزار شود.

گفتنی است که عبدالله مرادی بازیکن تیم جیولوژی و معدن این جام فوتسال عنوان بهترین گل‌زن را کسب کرد.

## « در باب آداب صحبت »

ترتیب کننده: حنیفی

موسی، عَلَیهِ السَّلام، قارون را نصیحت کرد که: اَحْسِن کَما اَحسَنَ اللهُ الیک. نشنید و عاقبتش شنیدی.

آن کس که به دینار و درم خیر نیندوخت
سر عاقبت اندر سر دینار و درم کرد
خواهی که ممتّع شوی از دنیی و عقبی
با خلق کرم کن چو خدا با تو کرم کرد

عرب گوید: جُد وَ لاتَمنُن فَاِنَّ الفائدةَ اِلَیکَ عائدة؛ یعنی ببخش و منّت منه که نفع آن به تو باز می گردد.

درخت کرَم هر کجا بیخ کرد
گذشت از فلک شاخ و بالای او
گر امّیدواری کز او بر خوری
به منّت منه ارّه بر پای او
شکر خدای کن که موفق شدی به خیر
ز انعام و فضل او، نه معطّل گذاشت
منّت منه که خدمت سلطان کنی همی
منّت شناس از او که به خدمت بداشت

گلستان « سعدی»

## غوره ویناوې!

راټولونکی: ناصر خان شېرزی

د حضرت لقمان حکیم رح نصیحتونه!

۱. په خپله نېکي کوئ او نورو ته هم د نېکۍ تلقین کوئ!
۲. په کوم نعمت چې شکر وویستل شي، د هغه نعمت پای نشته او په کوم نعمت چې ناشکري وشي، د هغه نعمت پایښت نشته.
۳. خپله ښځګنه او د بل بد ګنه هېره کړئ!
۴. ډېر اورئ او لږ غږېږئ!
۵. په خبته وړي؛ خو په حکمت ماړه اوسئ!
۶. الله جل جلاله او مرګ هېڅکله له یاده کوئ مه!
۷. رښتیا خبره مه پټوئ او درواغ خبره له سره مه کوئ!
۸. په هر مجلس کې چې د الله جل جلاله ذکر کېږي ګډون په کې کوئ او د بدو ملګرو له ناستې څخه ځان لیرې وساتئ!
۹. له پوهانو سره ناسته ولاړه غوره کړئ ، دا کار په ستونزو کې له تاسې سره مرسته کولای شي.
۱۰. د هغه مقام په اندازه عمل وکړه ، چې په قیامت کې یې د ځان له پاره غواړې؛ ځکه چې هر څوک غواړي په آخرت کې یې تر ټولو لوړ مقام وي ؛ نود لوړ مقام تر لاسه کولو له پاره پرلپسې هڅو او زیات زحمت ته اړتیا ده.



## د اسلامي حاکمانو، اخلاق او صفات

لیکوال: الحاج مولوي عبدالباقي حقاني

### ۱۱. کړې ژمنې ترسره کول

د وخت حاکم به په وینا کې صادق او د خلکو سره په کړو ژمنو وفا کوونکی وي.

امام ماوردي رحمهُ الله لیکلي: که ته د نېکانو خلکو سره د نېکې بدلې ژمنه وکړې او یا د بدو خلکو سره د سزا او ګواښنې یادونه وکړې؛ نو دا دواړه به عملي کوې، ځکه چې د نېکانو سره د نېکې بدلې وعده په حاکم یو لازمي حق دی او د بدانو سره د ګواښنې او سزا یادونه د حاکم په بدانو باندې حق دی.

### د وفا پېژندنه

امام جاحظ رحمهُ الله لیکلي دي: وفا په هغه څه صبر دی، چې انسان یې د خپل طرف نه بل چا ته د ورکړې ژمنه وکړي او د همدغې ژمنې په ترسره کولو کې په خپله ژبه ټینګ و اوسي.

د وفا ارزښت له دې نه هم معلومېږي، چې الله تعالی د یو شمېر جلیل القدر پیغمبرانو علیهم السلام په ځانګړتیاو کې شمار کړې ده.

الله تعالی فرمایي ژباړه: نو ته په دې کتاب کې د حضرت اسماعیل علیه السلام ذکر هم وکړه. بیشکه، چې هغه د وعدې ډېر رښتنی رسول صلی الله علیه وسلم او نبي و. سورة مریم **۵۴** ایت.

بل ځای کې الله تعالی فرمایي ژباړه: ای مؤمنانو! خپلې وعدې پوره کوئ. سورة مائده ۱ ایت.

د امام اصفهاني رحمهُ الله وینا


په خپلو ژمنو وفا کولو صفت له مخکې ذکر شویو دوو صفتونو (صدق او عدل) سره ورته والی لري او په ژمنې وفا نه کول او ټګي کول له دروغو او ظلم سره ورته والی لري؛ ځکه چې وفا په حقیقت کې په ژبه او عمل دواړو سره رښتیا ویل دي او بې وفایي په ژبه او عمل دواړو سره دروغ ویل دي او همدا راز په ټګي کولو کې د دروغو سربېره د ژمنې ماتول هم دي.

### ټولنه کې په ژمنې د وفا ارزښت

په انساني ټولنه کې هر انسان ته پکار ده، چې په خپلو کړو وعدو باندې وفا وکړي.

امام راغب اصفهاني رحمهُ الله لیکلي دي: د وفا صفت د صدق غوندې انسان پورې خاص دی، کوم انسان کې، چې د وفا ځانګړنه نه وي؛ نو په حقیقت کې له انسانیت څخه وتلی دی.

الله تعالی په ژمنه وفا کول د ایمان برخه ګرځولې ده او وفا یې د ټولو کارونو لپاره بنسټ ګرځولی،




دنیا کې ټول خلک په خپل منځ کې یو له بل سره مرستې ته اړتیا لري او دا مرسته هغه مهال پوره کېدای شي، چې ټول په کړو ژمنو وفا وکړي.

مولانا حفظ الرحمن سیوهاروي رحمهُ الله لیکلي دي: د وفا ژمنه د انسانیت په ځانګړو فرائضو کې یو فرض دی، له همدې امله کوم شخص، چې په ژمنه وفا نه کوي، په حقیقت کې دا د انسانیت له پت څخه بې برخې دی، له همدې امله الله تعالی ایفاء عهد د ایمان له برخو څخه ګرځولی دی، چې د خلکو د عملي ژوند لپاره د اساس او بنسټ بڼه لري؛ ځکه انسان یوه داسې هستي ده، چې د دوي ترمنځ یو له بله سره مرسته کول اړین دي او یو له بل سره د مرستو کولو ژمنو ته پام کول له وفا نه پرته نشي کېدای او که چېرته داسې و شي؛ نو بیا یو له بل سره د کومک پرځای په زړونو کې کرکه او وېره پیدا کېږي او ژوند له بدبختیو سره مخ کېږي.

### په وعده د وفا ارزښت او ګټې

کړې ژمنې ترسره کول هر انسان او په ځانګړې توګه پاچا او واکمن ته ډېر ارزښت لري.

علامه شیزري رحمهُ الله لیکلي دي: پاچا او واکمن سره په کړو ژمنو وفا کول ډېر ښه او مناسب صفت دی؛ ځکه چې په ژمنه وفا کولو باندې د خلکو زړونه خوشحالیږي، ځینې پوهانو د وخت واکمن ته داسې ویلي دي (( ای پاچا! زه تاته په څلورو خصلتو سره وصیت کوم، که ته دا څلور خصلتونه خپل کړې؛ نو الله تعالی به له تا څخه راضي شي او ستا رعیت به هم

ورسره اصلاح شي، هغه څلور صفتونه دا دي: کومه ژمنه، چې نشې پوره کولی له هغې نه ځان وساته! ځکه، چې په کړې وعده وفا ونه کړې؛ نو ستا قدر به له منځه ولاړ شي او که د ګواښ او زورونې خبرې وکړې او بیا یې عملي نکړې؛ نو خلک به دربان دې زړورتیا پیدا کړي، په خپل پرمختګ مه غره کېږه! ځکه دا هغه وخت دی، چې بیرته را ستنېدل درته سخت وي، له نصیحت کوونکي انسان نه ځان مه پټوه؛ کنه له تا به د رعیت چارې پټې پاتې شي)).

### د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمهُ الله اثر

د ژمنې له ماتولو نه د ځان ساتلو لپاره به حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمهُ الله له اړتیا پرته ژمنه نه کوله او کله به یې، چې چا سره ژمنه وکړه؛ نو ترڅو چې به یې ژمنه نه وه پوره کړې آرام به یې نه وو.

یو شاعر ویلي دي:

۱- کله، چې ته یو چا سره ژمنه وکړې؛ نو بیا دا ژمنه پوره کړه؛ ځکه ژمنه سرته رسول په اصیل انسان یو حتمي پور دی.
۲- ته همیشه لپاره خلکو سره وعدې کوې، ګواکې تاته د ژمنو کولو پرته بل شی د سره معلوم نه وي.
۳- ته په خبرو کې د انکار کولو نه بلکل ډډه کوې، ګواکې تا له خلکو نه انکار د سره اوریدلی نه وي.

یو بل شاعر بیا وایي:

۱- کله، چې ته د یو کار کولو اراده نلرې؛ نو د کولو ژمنه یې مه کوه.
۲- او کله، چې ته یو چاته د اړتیا پوره کولو ژمنه ورکړې؛ نو ژمنه یې پوره کړه، ځکه چې د ژمنې څخه مخ اړول ډېر ناوړه عمل دی.
۳- له انکار نه وروسته د ژمنې کول ډېر ښه وي او له ژمنې کولو نه وروسته له ژمنې مخ اړول ډېر بد وي.
٤- د ژمنې کولو نه انکار کول ډېر بد او بې حیا عمل دی، که چېرته ته ډاریږې، چې ژمنه به پوره نشم کړای؛ نو له همدې امله خلکو سره ژمنې مه کوه.

پاچا او حاکم ته په ژمنې د وفا ضرورت په راتلونکې ګڼه کې...